## ربه

ډاکټر محمد عرفان خټک

ربه تر څو به بده ورځ وي زمونږ
مونږ به تر کومه در په در پراته یو
سوزو تر څو به د ظلمونو اور کښې
تر څو به لوخ لغړ نهر پراته یو

اے د رحمت بارانه ووربېږه
زمونږ په حال باندې لږ ورحمېږه

ربه قتلېږو بې ګناه به تر څو
وي به تر څو دا د ماتم ورځې شپې
تر څو به زړهٔ ارې ارې ګرځوو
تر څو به وي په مونږ د غم ورځې شپې

تهٔ مو ملال زړونه خوشحال کړې ربه
مونږه د هرې تپې سیال کړې ربه

ربه په نمر د آزادۍ کړې رڼا
د غلامۍ د جبر ګورې تیارې
وي به ترڅو په پښتنه خاوره مو
د استبداد د وحشت لړې خورې

د ظلم دا نظام بدل کړې ربه
یا دا بې وسه طبقه دل کړې ربه

خادم یوسفزے

ځئ چې خوارهٔ شو په دې دشتو کښې سپرلي پېدا کړو
د مینې کر وکړو دې خاوره کښې مستي پېدا کړو
د تربګنۍ پېدا کوونکو نور د خدائے په خاطر
ځئ چې د ورونو ورونو منځ کښې وررولي پېدا کړو
نور د نفرت چنجو خوړلے تخم مهٔ ښیروئ
د شعور درس ورکړئ چې ژوند کښې رنګیني پېدا کړو
یارانو ځئ کهٔ نه چې غونډه د ګودر غاړې ته شو
سر کړو تارونه خوند د زېر مازیګري پېدا کړو
خادمه تېر وخت په مونږ کومې لوبې ونهٔ کړلې
چې راروان وخت له بلا نران بچي پېدا کړو

## دا سپېځلي خلق

قاسم سرحدي سوات

چې وختونه په وختونو باندې راوړي
د ښاغلو به قبرونه وران ویجاړ وي
کهٔ د خاورو سره خاورې دا جوثې وي
ماتې ګوډې د قبرونو ئې خازې وي
دا سپېځلي خلق یاد وو په قلم کښې
یو شاعر ئې یادوي په ټول عالم کښې
یو لیکوال ئې یادوي خپلو قیصو کښې
دا قیصې ئې هر ځائے کېږي په حجرو کښې
داسې خلق په مثال بلې ډېوې دي
چې بلېږي مزارونو ته پرتې وي
په دې خاوره ئې وي تل د ښېو ښاپونه
هم فضا کښې ئې وي ښکلي آوازونه
په ګردش کښې دي سره د دې نغمو
خپل اولس آزادوي له زولنو
داسې خلق تل یادېږي په قیصو کښې
یو شاعر ئې یادوي خپلو نغمو کښې

## عطاء الله جان

ګله چې ستا غندل غندل ځواني قلاره نهٔ وه
زما د زړهٔ دنیا به ولې نا قلاره نهٔ وه

هغه د خپل درد پټولو په چل نهٔ پوهېده
هغه فنکاره جینۍ دومره هم فنکاره نهٔ وه

دنیا لیدل زما په سپینه لمن تور داغونه
دنیا خبر زما د زړهٔ د لاله زاره نهٔ وه

زما د زړهٔ نه هره لاره وه ستا زړهٔ ته تلې
خو ستا د زړهٔ نه زما زړهٔ ته یوه لاره نهٔ وه

کهٔ د معاش غم ئې په سر لکه لوئې غر نهٔ وے پروت
هغه به وړۍ به د ټول کلي خدمتګاره نهٔ وه

نهٔ پکښې تهٔ چا پرېښودے نهٔ پکښې زهٔ جانانه
لکه چې دا دنیا زما او ستا د پاره نهٔ وه

هلته د هر چا زړهٔ د کرکې او نفرت نه ډک ؤ
د محبت جذبه په یو زړهٔ کښې بېداره نهٔ وه

دا خو د زمکې خدایانو خوار وزار کړو ګنې
زمونږه برخه د ازل نه داسې خواره نهٔ وه

کهٔ هیڅ ئې نهٔ کول تبلیغ خوئې د مینې کاوهٔ
د جان ځواني کهٔ د کار نهٔ وه خو بې کاره نهٔ وه

## د باچاخان فکر ونظر

نورین شمع

په هر یو ګوټ ئې د دنیا خوره کړئ
"پوهه" رڼا ده دا رڼا خوره کړئ

چې مو یو ستورے هم تت پاتې نهٔ شي
د زړهٔ په وینو ئې ځلا خوره کړئ

چې پرې د مړو اوښکو قطرې لیدے شي
په هغو شونډو هم خندا خوره کړئ

د ګل چینانو مخ نیوے پرې وکړئ
داسې خوشبو داسې هوا خوره کړئ

د حق د چغې نه غوغا جوړه کړئ
بیا دا غوغا غوغا خوره کړئ

ژبې آزادې وي غلامې نهٔ وي
پاڅئ پښتو په هره خوا خوره کړئ

د ناشنائۍ د ټکې زیلې پرېکړئ
هره جذبه اشنا اشنا خوره کړئ

راځئ یو موټے شو یو زړونه شو مونږ
چې پرې یو کېږو دا صدا خوره کړئ

چې پښتانهٔ پرې تر آسمانه رسي
د باچاخان هره وېنا خوره کړئ

بې تشه ده د ستم لاس نیول
دغه جذبه په هر هرچا خوره کړئ

شمعې ترې هم ګوره رڼا واخسته
اما کمائې په رښتیا خوره کړئ

اندېش شمس القمر

دا سې کۀ مونږه د يو بل ځنې وېزاره نۀ وے
زمونږه زړونه به درانۀ د غم د باره نۀ وے

نۀ به وجود ؤ ستا د حسن، نۀ زما د مينې
کۀ ستا د پاره زۀ، کۀ تۀ زما د پاره نۀ وے

زۀ د غلام په څېر په هېڅ پسې نۀ وے روان
ما څوک د اوښ په شان نيولے د مهاره نۀ وے

يا مې آباده وې د زړۀ دنيا په مينه باندې
يا په دې نوم باندې وتلے د بل کاره نۀ وے

اے د غنمو زاره چاؤدې غمه ورک دې کړمه
چې خوزېدلے د اوربشو د امباره نۀ وے

څېزونه اخله خرڅوه خو د دې فکر سره
هر شے بازار له نۀ وے هر شے د بازاره نۀ وے

هيڅ خبر شوے به د ژوند د سوز او سازه نۀ وم
کۀ چا چېړلے اے زما د زړۀ ستاره نۀ وے

دومره دې نۀ وے ځنډولے د ديدن ورځې شپې
پانې پرېوتې لا د څانګو د چناره نۀ وے

نن ئې جواب د سلام راکړو د سلام جواب کښې
نن ئې خبرې بې تولې نۀ وے بې واره نۀ وے

هغه چې ما سره دې ملۀ د قدم دوره کړله
تۀ ما له مخې له راغلے په دې لاره نۀ وے

د انتظار په بلې چرګ د سحر بانګ هم ووې
تۀ راؤرېدلے لا د کرښې د اقراره نۀ وے

خدايه د مينې د دې دومره پېرزوينې سره
ستا د وفا د پنګې برخه دومره خواره نۀ وے

ما ته زما خاورې انداز د تورزنۍ ښودلے
زۀ ګزارې وے په شا کړے د ګزاره نۀ وے

د ژوند د ساه د اخستو د بيې مۀ کړه تپوس
زۀ ستا د فکر په ګلزار کښې هم بې کاره نۀ وے

کاش چې په خيال کښې مو د خېر ګل منجرې هم راتلې
د بې خبرۍ د لارې دومره خبرداره نۀ وے

زۀ دوه کچکول سترګې په در کښې د يار نۀ وے ولاړ
د محبت د دغې چارې نه ناچاره نۀ وے

زۀ د يوې لارې سړے وم په يوه پوهېدم
چې د يار کور ته د ورتلو لارې بسياره نۀ وے

ما د دنيا غمونه ټول دي په يو غم شمېرلي
د جانان غمه کۀ يو تۀ راته بې شماره نۀ وے

هر شے په قدر د حاجت چا په کار رانۀ وستۀ
دا زمانه چې څومره ده دومره بېداره نۀ وے

انګرېزي: غني خان
پښتو: زبېر حسرت

په ګلشن کښې ئې له ګله تپوس وکړۀ
"د خپل ښائست د ښکليو پاڼو نه خبر ئې ګله!
تا ته د خپل وجود د حسن څۀ احساس هم شته دے؟"
"نۀ" ګلاب جواب راکړلو
"زۀ خو خزان پېژنم
او چې خزان پسې را درومي تل، سپرلے پېژنم"
د لولکۍ نه مې پوښتنه وکړه
"اے مجسمې نغمې!
تۀ د سندرې د خوږو نه دې خبر ئې کۀ نۀ؟"
لولکۍ ووئيل" نۀ"
"زۀ لولکۍ يمه بس دومره پوه يم"
ما له بلبله تپوس وکړه، "محبت کوونکيه!
د خپل محبوب له ښکلي مخه دې خبر ئې کۀ نۀ؟"
بلبل جواب راکړلو "نۀ،
زۀ خو فقط خپله نغمه پېژنم"
"خواره نادانه! لا خو"
دغې وېنا سره له باغه هسکه غاړه راتلم،
د فخر دې احساس سره، چې زما روح بېدار دے
او زۀ په خپل سر کښې مازغۀ لرمه
د رېدي ګل د شرارت نه سر راوچت کړۀ وې ئې
"خو تا ته پته ده چې تۀ لا څوک ئې؟"

خاموشي
انګرېزي: غني خان
پښتو: زبېر حسرت
چې مينه شي غالبه خاموشي خوږه نغمه شي
نغمه چې بې معنې شي نو يو شور او زوږ ترې جوړ شي
او کله چې احساس د يقين وشي کوم يو خيال ته
لفظونو کښې راوورېږي ښکته باندې راشي
ګڼا چې کله لفظ په خپل وجود کښې کړي محسوسه
په سر او ساز کښې واوړي موسيقي شي لے او تال شي
او کله موسيقي چې په غلاف د خاموشۍ شي
خلۀ پټه خاموشي شي
ازل هم خاموشي ده او ابد هم خاموشي ده.

قسمت
انګرېزي: غني خان
پښتو: زبېر حسرت

قسمت د ساز پردو کښې د سرونو غوندې پټ وي
د ساز له هره تاره راختونکي اوازونه
په خپل موتې کښې کلک کړي
او يو احساس د ژوندانۀ د نېرنګۍ ورکړي
د يوۀ فلم په شان
چې د افتاب سپينه رڼا له خپل وجوده واخلي
او په رنګونو ئې خوره وره کړي ويې وېشي
ژوندون بغېر له حقايقو بېخي دارنګې وي
لکه اواز چې نغمګۍ نۀ لري
يکسانيت ابد دے
هېڅ انتها نۀ لري.

زما د وطن خاورې

محمد زبیر حسرت

ستا د غرۀ لمن ګلونه ستا د غرونو په سر واورې

اې زما د وطن خاورې اې زما د وطن خاورې

***

ستا چپې چپې سیندونه ستا ښېرازه شنۀ باغونه

ستا دریاب کښې ملغلرې ستا په غرونو کښې لعلونه

ستا ورمې د ګلزارونو د بلبلو نغمې واورې

اې زما د وطن خاورې اې زما د وطن خاورې

***

ستا ګلونه بهارونه د رنګونو تصویرونه

ستا خوشبویه فضاګانې په غورځنګ دې ابشارونه

ترنم د اوازونو تۀ ئې اورې کۀ نۀ اورې

اې زما د وطن خاورې اې زما د وطن خاورې

***

ستا چینې او چینارونه ستا هر بڼ مرغزارونه

ستا عظمت ته راټیټیږي دغه پورته اسمانونه

ستا په سترګو کښې رانجۀ دي د دښمن سترګو کښې خاورې

اې زما د وطن خاورې اې زما د وطن خاورې

***

شه قربان مو له تا زړونه په سینو کښې حسرتونه

زمونږ ټولې ارزوګانې ستا په سر شه د ستارونه

حسرتونه به دې ګل شي د حسرت سندرې واورې

اې زما د وطن خاورې اې زما د وطن خاورې

## پښتون رهبر

اقبال مومند

د نظم دا يو شو ټکي ما د خان عبدالولي خان په مړينه مسلسل وليکل. داوخت هغه په جناح پارک پېښور کښې پروت ؤ. د هغۀ اخري ماښامے ؤ او د ټول پاکستان خلق ئې ديدار له راتلل. (اقبال مومند)

زما د زړۀ د باغ سپرليه ليونيه خانه
پروت ئې را پورته شه زمريه ليونيه خانه
داد خر سرو پښتنو خبرې چاته پرېږدې
زما د کلي د حجرو خبرې چاته پرېږدې
زما هوښياره لېونيه لېونيه خانه
ستا د دې دواړو ګلالو سترګو بلا واخلم
چې دې لر سيوري ته دمه شم لږه ساه واخلم
دومره خو ودرېږه سړيه لېونيه خانه
چرته چې پوهه د شعور په رڼا ګام واخلي
چرته چې فکر مينه مينه شي دوام واخلي
د هغې لارې لارويه لېونيه خانه
تۀ خو را پورته شه په مينه هغه شان مسکے شه
په بلا زړونو کښې ژونديه لېونيه خانه
تا چې د زړۀ په وينه تر کړو ګلستان د پښتو
تا عظمتونه راښکاره کړل په جهان د پښتو
اے د پښتو زويه نوسيه لېونيه خانه
تا به د سترګو په کچکول کښې لکه خېر راټول کړم
څنګه به زړۀ ستا د يادونو نه بغېر راټول کړم
زما دانه دانه زړګيه لېونيه خانه
څنګه دلګير د يو شريک ارمان په لاره لاړې
د خپله ځانه د پردي مقصد د پاره لاړې
زما د خپل غوندې پرديه لېونيه خانه
تا د بابا د فکر ځلنده مشال وساتۀ
خپله سينه دې هر جابر حاکم ته ډال وساتۀ
زما خانيه ملنګيه لېونيه خانه
چرته چې وې خو هر ملګرے دې په غم لوګے شو
ځان دې لوګے کړو خو اقبال درسره سم لوګے شو
اے لېونيه سپېلنيه لېونيه خانه

پروت ئې را پورته شه زمريه لېونيه خانه